بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي ریاست

د تحریراتو آمریت

د متحدالمآلونو څانګه

تاریخ: ۲/شعبان المعظم/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۲۴ /دلو/ ۱۴۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

متحدالمآل نمبر: ۳۵

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د ستري محکمې د محترم مقام د دفتر ریاست مکتوب نمبر (۱۷۳۴بر۶۶۷) مورخ ۱۴۴۵/۷/۲۴هق مل د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د امنیتي چارو ستر معینیت مکتوب نمبر (۹۵۲بر۷۴۹) مورخ ۱۴۴۵/۷/۳هق رارسیدلی چي خلاصه یې په لاندي ډول ده:

لکه څرنګه چي له بهرنیو هیوادونو څخه د مجرمینو استرداد د هیواد د عدلي او قضائي ارګانونو په هدایت د نړیوالو پولیسو انټرپول ریاست له دندو څخه دی، کله چي یاد ریاست د محاکمو لخوا د ترتیب شویو اسنادو او مدارکو په اساس له بهرنیو هیوادونو څخه د پورته ذکر شویو اشخاصو د استرداد غوښتنه کوي، د استرداد د فورم مطابق یې کوي.

نو په دې اساس یې د ستري محکمې څخه غوښتنه کړې تر څو ټولو محاکمو ته د نوموړي فورم یوه نمونه واستول شي او د اړونده محاکمو لخوا د انټرپول ریاست لخوا د مجرمینو د استرداد د غوښتنې په صورت کې د نورو اسنادو او مدارکو تر څنګ د استرداد فورم هم ټاپه او ولیږل شي.

د استرداد د پورته ذکر شوي فورم په اړه د ستري محکمې محترم عالي مقام په لاندي ډول هدایت کړی دی:

((په مکتوب کي مندرج محتویات ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوئ تر څو په آینده کې ټول محاکم د استرداد فورم او ورسره اسناد ټاپه کړي.))

بناءً د ستري محکمې د محترم عالي مقام د هدایت په اساس د استرداد د فورم نمونه ددې متحدالمآل مل د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۸ / ۲ / ۱۴۴۵هق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af

# د ځېړنې او استرداد غوښتنې پاڼه

موضوع : د هویتي معلوماتو په اړه... استرداد ☐ ځېړنه ☐ انځور ☐

نوم ☐ کورنی نوم (تخلص) ☐ د پلار نوم ☐ د مور نوم ☐

جنسیت

| نارینه | ښځینه |
| --- | --- |
| | |

د زیږیدو نیټه

| ورځ | میاشت | کال |
| --- | --- | --- |
| | | |

د زیږیدو ځای ☐ تابعیت ☐

د پاسپورت شمیره ☐

د صدور نیټه

| ورځ | میاشت | کال |
| --- | --- | --- |
| | | |

د تذکرې شمیره ☐

مستعار نوم ☐ نورې ځانګړې نښې ☐ دنده ☐

ژبه ☐ هغه هیواد چې پناه یې ورکړې یا یې سفر ورته کړی ☐ هیواد ځخه د وتلو پوله ☐

اړیکلي پته او موبایل نمبر ☐

## قضائي معلومات

د اتهام ډول ☐ قضیې ځخه د خبریدو راپور

| شمېره | نیټه | صادرونکی مقام |
| --- | --- | --- |
| | | |

حد اکثر جزاء ☐ د جزاء قانون هغه ماده چې د نوموړي جرم په اړه صراحت لري ☐ د قضیې د عدلي تعقیب د وخت محدودیت ☐

د جرمي شریکانو ځانګړنې ☐

د پیښې قضیه او شرحه یې

د پیښیدو نیټه ☐ د جرم د پیښیدو ځای ☐

د جرم د پیښیدو ځرنګوالی:

ضمایم: اثباتیه مدارک ☐ د ګوتې نښه ☐ انځور ☐ د هویتي مدارکو انځورونه ☐ نور معلومات ☐

